
# د لوی اختر او قربانۍ فضایل او مسایل




لیکوال
مفتي عبدالروف

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب ځانګړنې:**

د کتاب نوم: د لوی اختر او قربانۍ فضایل او مسایل
لیکوال: مفتي عبدالروف
کمپوز او ډیزاین: محمد قاسم
خپرندوی: د افغان بنسټ د نشراتو مدیریت
چاپلړ: دویم
د چاپ شمېر: ۵۰۰۰ ټوکه

***د کتاب ټول حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي***



# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| سرلیک | مخګڼه |
|---|---|
| د دویم چاپ په اړه د خپرندویې ټولنې یادښت | و |
| د سریزې پر ځای د خپرندویې ټولنې یادښت | ي |
| قرباني د قرآن په رڼا کې | ۱ |
| قرباني د سنتو په رڼا کې | ۲ |
| قرباني او د صحابه وو عمل | ۳ |
| د قربانۍ تاریخ | ۳ |
| د محمدي امت ځانګړتیا | ۴ |
| د قربانۍ ستره پېښه او ابراهیمي سنت | ۵ |
| د حضرت اسماعیل عليه السلام پر ځای د پسه حلالول | ۷ |
| ابراهیمي یاد | ۸ |
| اسلامي یاد | ۸ |
| حاجیان او غیر حاجیان د قربانۍ په مسئله کې یو ډول دي | ۹ |
| ایا قرباني اقتصادي زیات دی؟ | ۱۰ |
| د اختر او قربانۍ فضایل او مسایل | ۱۱ |
| د اخترونو مشروعیت | ۱۱ |
| د ذوالحجې د لومړیو لسو ورځو فضیلت | ۱۲ |
| د لوی اختر په ورځ تر ټولو غوره عمل | ۱۴ |
| د تشریق تکبیرونه | ۱۴ |
| د لوی اختر د ورځې سنت کارونه | ۱۵ |
| د اختر د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته | ۱۶ |
| د اختر د لمانځه ترتیب | ۱۶ |





| | |
|---|---|
| د اختر خطبه | ۱۷ |
| د اختر په ورځ نفلي لمونځ | ۱۷ |
| د قربانۍ تعریف | ۱۷ |
| د قربانۍ مشروعیت | ۱۸ |
| د قربانۍ حکم | ۱۸ |
| د قربانۍ حکمیت او فلسفه | ۱۹ |
| د قربانۍ حقیقت او ارزښت | ۱۹ |
| د قربانۍ فضیلت | ۲۰ |
| د قربانۍ پر پرېښولو وعید | ۲۰ |
| د قربانۍ نصاب | ۲۱ |
| د نصاب تعریف | ۲۱ |
| قرباني پر چا واجبېږي | ۲۱ |
| د قربانۍ ورځې | ۲۴ |
| د قربانۍ پر ځای صدقه او خیرات کول | ۲۴ |
| د قربانۍ د حلالولو وخت | ۲۵ |
| د قربانۍ د حلالولو مستحب وخت | ۲۵ |
| د حلالولو سنت طریقه | ۲۶ |
| تر حلالولو مخکې اداب | ۲۷ |
| د قربانۍ نیت | ۲۸ |
| تر حلالولو مخکې دعا | ۲۸ |
| تر حلالولو وروسته دعا | ۲۸ |
| د قربانۍ څاروی | ۲۹ |
| د قربانۍ د څاروي عمر | ۲۹ |
| هغه څاروي چې قرباني کول یې غوره دي | ۳۰ |
| هغه څاروي چې قرباني کول یې روا دي خو غوره نه دي | ۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه عیب لرونکي څاروي چې د قربانۍ وړ نه دي................۳۱
په قربانۍ کې د ګډون مسئلې.........................۳۲
په قربانۍ کې نیابت........................۳۴
د وفات شوي کس لپاره قرباني کول..........۳۴
د قربانۍ غوښه.............۳۵
د قربانۍ د غوښې د وېش مستحبه طریقه.........۳۶
د قربانۍ څرمن (پوست).........۳۷



## د دويم چاپ په اړه د خپرندويې ټولنې يادښت

دالله تعالی له ستاینې او پر خوږنبي محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د درود ویلو څخه وروسته موږ دالله تعالی ډېر شکر پر ځای کوو، چې یو ځل بیا یې د دې جوګه وګرځولو چې د خپل درانه ملت چوپړ ته دهغوی دیوې سترې فریضې دښه پرځای راوړلو په خاطر داعلمي ټولګه وړاندې کړو، قرباني موږ او تاسې ته دحضرت ابو الانبیاء ابراهیم خلیل الله علیه السلام یاد را په زړه کوي ،کوم چې دحق دشجره طوبی حیثیت لري او دنړۍ واړه اسماني دینونه دهغه پر لور خپل نسبت یو لوی ویاړ ګڼي،او دا خبره یوستر حقیقت هم دی؛ خو چې په رښتینې توګه د دلیل له مخې ثابته شي، یهودو به دعوی کوله،چې د ابراهیم علیه السلام د دین تعلیمات زموږ په څیر وو،مسیحیانو به دعوی لرله چې دهغه مبارک د دین لارښوونې زموږ دین ته ورته وي،او مسلمانان عقیده لري چې اصل میرا ث یې خپل لمسي سیدالکونین والثقلین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پاته دی،چې دواړه مبارکان په څیره،صورت اوسیرت کې یوشان وو.

د نړۍ دا قانون دی چې کوم سړی د چا دمیراث دعوی لري باید دلیل ورسره وي،دبېلګې په توګه که دنسب دعوی ولري باید په هغه کورنۍ کې زیږېدلې وي دکومې چې دعوی لري،په کور یې یا پر ځمکه یې دوراثت دعوی ولري باید سمدستي دهغه ذوالید ثابت وي، یا یې څېره (قیافه) پیژندونکي ګواهي ورکړي، یا یې کړه وړه دهغه پلار په څیر وي، د هغه پر لار روان وي او د هغه طریقې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی ساتلي وي، یا عرفي قباله ولري یا شرعي کوم لیکلې دلیل ولري؛ څو خپله دعوی پرې ثبوت ته ورسوي؛ نو اوس ګورو چې پورته درې اسماني دینونو کې کوم یو رښتینې دی؟

د رسولانو پلار حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام کعبه جوړه کړه، هغه یې پاکه ساتله عبادت یې په کې کاوه، طواف یې ورځنې کاوه، دحج اعلان یې دالله جل جلاله په امر د ټولې نړۍ انسانانو ته کړی دی، بختورو ورته دسویتیا ډاډ ورکړی دی، په همدغه مکه کې یې خپله کورنۍ (حضرت اسماعیل او دهغه مور مبارکه حضرت هاجر سلام الله علیهما ) پرېښوده، او دمقام ابراهیم علیه السلام په نامه ځای هم په همدغه کعبه شریفه کې دی، هلته د زمزم کوهی (څاه) هم دهغه دخبره منونکي زوی دقدم وهلو او خاپوړو وخت رایادوي، دصفا او مروا غونډۍ همهلته دهغه د بي بي مبارکې یاد راپه زړه کوي، هغه مبارک ځان سنت کړی وو، اوس داټول کارونه یوازې او یوازې د مسلمانانو ذوالید او په کې پاتې دي، چې نور ادیان یې سوچ هم نه شي کولای او د ابراهیمي ملت رښتینی وارث حضرت محمد صلی الله علیه وسلم همدغه مکه او دابراهیم علیه السلام په اولاده کې زېږېدلی دی؛ نو له دې دلائلو په ډاګه شوه چې مسلمانان په خپله دعوی کې رښتیني او په خپله ژمنه ترقیامته ولاړ او پوره کولو ته یې ژمن دي او په دې لار کې هرې سرښندنې ته په ورین تندې ښه راغلاست وایي. پاتې شوه شرعي قباله؛ نو دا خبره په ډاګه ده چې تورات، انجیل او قرآن کریم ټول دهغه مبارک څخه وروسته نازل شوي دي، خو له قرآن پرته هیڅ کتاب دا نص نه لري چې ابراهیم علیه السلام یهودي یا نصراني وو، په داسې حال کې چې قرآن کریم په ډاګه وایي: مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلاَ نَصْرَانِيًّا



وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾[1]

ژباړه: حضرت ابراهیم علیه السلام نه یهودي وو، نه مسیحي وو، بلکې (له زړه نه) د هر باطل څخه دحق په لور تلونکی وو، مسلمان وو او هغه له مشرکانو څخه نه وو، بیشکه هغه کسان دابرهیمي ملت د دعوې حق لري، چې په لار یې تللي وي، او دارسول (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم )او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، او الله تعالی دایمان لرونکو سره مینه (پیرزو) کوونکی دی.

په داسې حال کې چې ننني مسیحي نړۍ د توحید عقیده پرېښې ده، پر شرک او بت پرستۍ کلک ولاړ دي، خپلو کلیساوو کې یې دحضرت عیسی او حضرت مریم علیهما السلام غیر اخلاقي او بربنډ انځورونه ځړولي دي او دالله تعالی بندګي پرځای پاتې ده، دهغو بتانو بندګي کوي او اکثره یې ملحد او بې دینه دي چې هرڅه پرته د حلال او حرام له توپیره خوري او ددین سره سروکار نه لري. پاتې شو یهودان، هغوی له دین څخه زیات قومیت او اقتصادي واکمنۍ، پر میډیا قبضې او که په روا وي که په ناروا، په قانون وي او که په ظلم او تیري خپلو شومو پایلو ته د رسیدلو لیوني دي او په دې لار کې تل ددین قرباني ورکوي او خپل اهداف پرې مخکې کوي؛ نو یوازې مسلمانان پاتې شول او په مسلمانانوکې افغانان هغه حیثیت

[1] سورة الاعمران ۶۷ - ۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري،چې تل یې داسلامي امت په امامت کې په علمي او عملي ډګر خپله دنده له هرچا دمخه په ړومبۍ کرښه کې سرته رسولې.
باید پر دې پوه شو چې افغان بنسټ دملت دخدمت لپاره ملا تړلې او هر هغه لور ته ګام اخلي چې ددې خوار او کړېدلي ملت ګټه په کې ګوري، دا چې داسلام سپېڅلی دین دهر افغان په ختہ کې اغېړل شوی او ددې دروند ملت دوینې او غوښې برخه ګرځېدلې او اړیکه یې ورسره په هیڅ حال کې نه شلیدونکې ده،افغان بنسټ وپتییله چې دقربانۍ د تاریخي شالید ،فقهي احکامو، داخترونوفضیلت او مشـــروعیت او داســـلامي امـــت دنـــورو امتونـــو ســـره د تـــوپیر اونورو...ځینو هغه مسائلو په هکله چې په ورځني ژوند کې ورسره کله نا کله مخ کېږو د ټولګې دویم ځلي چاپ بشپړ او یو ځل بیا وړاندې کړي؛ څو ګران هیوادوال او ددین مینه لرونکي ترې ګټه واخلي، الله جل جلاله دې وکړي چې موږ په رښتیا هم دملت ددیني او دنیوي ستونزو درمل وګرځو او دالله تعالی مخلوق ته ګټه ورسوو.

په اسلامي مینه
د افغان بنسټ د نشراتو څانګه
خوشحال خان مېنه، کابل
۲۰، تله، ۱۳۹۱هـ ل



# د سریزې پر ځای د خپرندویې ټولنې یادښت

حامداً و مصلیاً وبعد:

د افغانستان مسلمان ولس چې د راز راز قربانیو شاهد دی، د لوی اختر او حج قربانۍ هم ورته ډېر ارزښت لري ؛ نو له دې کبله د افغان بنسټ د علمي څېړنو مدیریت وپتیله چې په دې اړوند یوه لنډه ټولګه وړاندې کړي.

دا چې قرباني (اختری) یو ابراهیمي یادګار، د الله ﷻ په لار کې یو ډول سربښندنه، د الله ﷻ د منني اداء کول او د اسلام د ډېرو مهمو نښو څخه ده چې یادونه یې په ډېرو ایاتونو او حدیثونو کې شوې ده.

الله ﷻ دې ټولو ملګرو او په ځانګړې توګه مفتي صاحب عبدالروف ته اجر ورکړي، چې په لنډ وخت کې یې دغه رساله راټوله او بیا د نشراتو مدیر احمد فیصل صاحب د چاپ په ګاڼه وپسولله.

درنښت

د افغان بنسټ د علمي څېړنو مدیریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قرباني د قران په رڼا کې:

۱. ﴿لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ﴾ [۱]

ژباړه: نه د هغو غوښې الله ﷻ ته رسېږي او نه يې وينې، خو هغه ته ستاسې ځان ساتنه (تقوا) رسېږي.

۲. ﴿وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ﴾ [۲]

ژباړه : او د (قربانۍ) اوښان موږ ستاسې لپاره د الله ﷻ شعايرو کې شامل کړي دي په هغو کې ستاسې لپاره ښېګڼه ده.

۳. ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴾ [۳]

ژباړه: نو خپل رب ته لمونځ وکړه او قرباني وکړه.

ابن کثير رحمه الله له مفسرينو صحابه کرامو، تابعينو لکه حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ، عطاء ، مجاهد ، عکرمه او حسن بصري رحمه الله څخه روايت کړی دی چې د ﴿ وَانْحَرْ ﴾کليمې معنی قرباني ده . [٤]

---

[۱] د حج سورت ۳۷ ايت .
[۲] د حج سورت ۳٦ ايت .
[۳] د کوثر سورت ۲ ايت.
[٤] ابن کثير، سورة الکوثر، آية ۲.



## قرباني د سنتو په رڼا کې:

۱. (عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ يُضَحِّي) [۱]

ژباړه: حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې لس کلونه تېر کړل او هر کال به يې قرباني کوله.

۲. (عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا.) [۲]

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ دوه ښکرونه لرونکي، سپينوالي او توروالي ته مايل پسونه په خپل لاسونو قرباني کړل، د حلالولو پر مهال يې (بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) وويل او خپله پښه يې د هغه پر غاړه ايښې وه.

(عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قُلْتُ أَوْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا هَذِهِ الْأَضَاحِيُّ قَالَ سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ قَالُوا مَا لَنَا مِنْهَا قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالصُّوفُ قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوفِ حَسَنَةٌ) [۳]

ژباړه: حضرت زيد بن ارقم وايي: چې صحابه وو له پيغمبر ﷺ څخه د قربانۍ د حقيقت په اړه پوښتنه وکړه پيغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمايل : ( دا ستاسو د پلار حضرت ابراهيم عليه السلام سنت دی ) صحابه وو وپوښتل : ( آيا نو په دغه قربانۍ کې موږ ته هم ثواب

---

[۱] ترمذی: ابواب الاضاحی، رقم الحدیث: ۱۵۰۷
[۲] بخاری: باب تکبیر عند الذبح، رقم الحدیث ۵۲۴۵
[۳] سنن ابن ماجه: باب ثواب الاضحیه، رقم الحدیث ۳۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسیږي؟) پیغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمایل : ( هو ، د قربانۍ د حیوان د هر وېښته په بدل کې تاسو ته یوه نېکي لیکل کیږي ) صحابه وو بیا وپوښتل: (د وړیو هم دومره اجر دی؟) پیغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمایل: (هو، د وړیو هم دغه حساب دی، د هر وېښته په بدل کې یوه نېکي ورکول کېږي)

## قرباني او د صحابه وو رضي الله عنهم عمل:

(وَقَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ بْنَ سَهْلٍ قَالَ كُنَّا نُسَمِّنُ الْأُضْحِيَّةَ بِالْمَدِينَةِ وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يُسَمِّنُونَ) [۱]

ژباړه: ابو امامه وایي: موږ او ټولو مسلمانانو به په مدینه کې خپلې قربانۍ ښې چاغولې او بیا به مو حلالولې.

## د قربانۍ تاریخ :

الله ﷻ ته د نږدېوالي حاصلولو په موخه د څاروي حلالول له هغه مهاله پیل شوې چې حضرت ادم علیه السلام دې نړۍ ته راغلی په لومړي ځل د حضرت ادم علیه السلام دوو زامنو هابیل او قابیل قرباني کړې ده ، الله ﷻ دغه پېښه په قران کریم کې هم یاده کړې ده (إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا) [۲] کله چې دغو دواړو (د الله ﷻ لپاره) قرباني وړاندې کړه .

ابن کثیر رحمه الله د دې ایت تر سرلیک لاندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه

[۱] بخاري: کتاب الاضحیه.
[۲] د مائدې سورت ۲۷ ایت .



څخه روایت کړی وایي : ( هابیل یو پسه او قابیل څه غنم د قربانۍ په موخه الله ﷻ ته وړاندې کړل ، د الله ﷻ د امر سره سم د اسمان څخه اور را کښته شو ، د هابیل قرباني یې وسوزوله او د قابیل قرباني (غنم ) پر ځای پاته شول ، د مخکینیو پیغمبرانو پر مهال چې کومه قرباني او صدقه به قبلېده ، د اسمان څخه به اور را کښته کېدی او قبوله شوې قرباني او صدقه به یې سوزوله ، او کومه قرباني او صدقه چې به نه وه قبوله شوې هغه به پر خپل ځای پاته کېدله . [۱]

## د محمدي امت ځانګړتیا:

پخوا به چې مسلمانانو کوم مال د ولجې په توګه ونیوه هغه به هم د قبلېدو په صورت کې په اسماني اور سوزېده ، خو دا د حضرت محمد ﷺ پر امت د الله ﷻ مهرباني ده چې د قربانۍ غوښه او د غنیمت مالونه یې دوی ته حلال کړي دي ، یوه ورځ حضرت محمد ﷺ پر ځان د الله ﷻ د نعمتونو یادونه کوله وې فرمایل :( وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ ) او ماته ولجې حلال شوي دي ، یعنې زما امت ته الله ﷻ د غنیمت مالونه حلال کړي دي .

د حضرت محمد ﷺ په وخت کې چې کومو خلکو اسلام ته غاړه نه اېښوده نو هغو به ویل چې د مخکینیو پیغمبرانو په وختونو کې به چې کله صدقې او قربانۍ قبولې شوې هغه به په اسماني اور سوزول کېدې ، موږ به تر هغې ایمان را نه وړو تر څو تاسو دغه معجزه موږ ته ښکاره نه کړې.

[۱] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ دوی ته داسې جواب ورکړ چې که تاسو رښتیا وایاست نو ولې مو په هغو پیغمبرانو پسې دروغ وویل او ومو وژل ، د دې چلونو او خبرو څخه ښکاري چې تاسو د ایمان راوړلو اراده نه لرئ.

د پورتنیو خبرو څخه څرګندیږي چې قرباني د حضرت ادم ﷺ له وخته پیل شوې او الله ﷻ ته د نږدېوالي په موخه تر سره کېده ، او د قبلېدو په صورت کې به د اسماني اور په ذریعه سوزول کېده .[1]

## د قربانۍ ستره ښېښه او ابراهیمي سنت:

د قربانۍ حلالول که څه هم د عبادت په موخه د حضرت ادم ﷺ له وخته پیل شوې ده ، خو د حضرت ابراهیم ﷺ له پېښې وروسته یې ډېر ارزښت پیدا کړ ، او د دغه یاد د ژوندي ساتلو لپاره په محمدي شریعت کې قرباني پر مسلمانانو واجبه شوه ، په اسلامي تاریخ کې د حضرت ابراهیم ﷺ قرباني یوه بې سارې او منل شوې قرباني ده، او الله ﷻ دغه پېښه د ( صٰفٰت ) په سورت کې هم په بشپړه توګه یاده کړې ده.

الله ﷻ په قران کریم کې د حضرت ابراهیم ﷺ د قربانۍ کیسه په دې ډول پیل کړې ده : (فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى )[2]

[1] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[2] د صٰفٰت سورت ۱۰۲ ایت .



ژباړه: نو هغه هلک چې کله له هغه سره د منډو ترړو کولو منګ ته ورسېده ، (یوه ورځ) ابراهیم هغه ته وویل : ( بچیه! زه په خوب کې وینم چې تا حلالوم اوس ته ووایه چې ستا نظر څه دی .

ایا ته د الله ﷻ دغه امر ته حاضر یې او که نه ؟ څرنګه چې د پیغمبرانو خوب د وحې په ډول وي نو په خوب کې حلالول د حلالولو د حکم په ډول وي . کله چې حضرت ابراهیم ﷺ ته د الله ﷻ له لورې امر وشو ، سلا او مشورو ته یې هیڅ اړتیا نه وه ، خو سلا یې د لاندې لاملونو له کبله وکړه :

- چې زوی یې په دې پوه شي چې دی تر څومره بریده پوخ هوډ ، همت او د الله ﷻ د پیروي لېوالتیا لري .
- که چیرې یې زوی دغه امر ومني کېدای شي چې الله ﷻ یې زوی ته هم ثواب ورکړي ، ځکه چې د ثواب ګټل په ارادې پورې اړه لري.
- د حلالولو ( ذبح ) پر مهال له پلرنۍ مینې او ذهني ناکرارۍ څخه ډاډه وي.

د تاریخي روایتونو پر بنسټ حضرت اسماعیل ﷺ هغه مهال نهه کلن وو، کله چې حضرت ابراهیم ﷺ د خپل بختور زوی حضرت اسماعیل ﷺ سره سلا وکړه ، زوی یې همغه ګړۍ په ځواب کې وویل : ( قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ)[1] پلاره ! څه چې درته امر شوی همغه وکړه ژر ده چې انشاء الله ما به له صابرانو ومومې.

[1] د صٰفٰت سورت ۱۰۲ ایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



( فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ) [۱] کله چې دواړو ومنله پړمخې یې څملولو.

یعنې کله چې زوی او پلار دې سترې قربانۍ ته تیار شول، پلار یې خپل زوی پړمخې پر مځکه وغورزوه ، په پړمخې اچولو کې دا راز و چې حضرت ابراهیم ؑ د خپل زوی څېره ونهویني ، داسې نه چې د پلارتوب مینه یې راوپارېږي او د الله ﷻ د امر په پر ځای کولو کې ځنډ راشي. [۲]

## د حضرت اسماعیل ؑ پر ځای د پسه حلالول :

کله چې حضرت ابراهیم ؑ د خپل زوی د جامو په ایستلو بوخت شو ، الله ﷻ ږغ ور وکړ لکه څرنګه چې په قران کریم کې یې یادونه شوې ده ( وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ۞ قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآ ) [۳]

ژباړه: موږ ور ږغ کړ چې ای ابراهیمه ! بېشکه تا خو دې خوب رښتیا کړ .

الله ﷻ همغه ګړۍ حضرت ابراهیم ته یو پسه راولیږه ، او د حضرت اسماعیل ؑ پر ځای یې حلال کړ، نو ځکه خدای ﷻ فرمایلي دي : ( وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٍ ) [٤] موږ د هغه په فدیه

---

[۱] د صٰفٰت سورت ۱۰۳ ایت

[۲] د مفتي محمد شفیع ؒ لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[۳] د صٰفٰت سورت ۱۰۴ او ۱۰۵ ایاتونه

[٤] د صٰفٰت سورت ۱۰۷ ایت



( بدل ) کې ستره حلاله ورکړه.

دغې حلالې ته ځکه ستره حلاله ویل شوې چې الله ﷻ د قیامت تر ورځې پورې د دغه یاد د تازه ساتلو لپاره پر مسلمانانو قرباني واجبه کړه . [۱]

## ابراهیمي یاد :

الله ﷻ ته د حضرت ابراهیم ؑ کړنې خوښې شوې او د هغو د ژوندي ساتلو لپاره یې پر مسلمانانو عبادت وګرځاوه او واجب یې کړل ، لکه د حج په مراسمو کې درېیو جمرو په کاڼو ویشتل او قرباني.

الله ﷻ د حضرت ابراهیم ؑ د کړنو څخه پرته د بي بي هاجرې منډې رامنډې هم له اسلامي نښو ( اسلامي شعائرو) څخه وګرزولې ، نو له دې کبله پر هر حاجي د صفا او مروا تر منځ منډې رامنډې او د مکې معظمې له ودانۍ څخه اووه ځله طواف کول واجب دي. [۲]

## اسلامي یاد :

پخوا به د خلکو رواج وو، چې د خپلو مشرانو د یادونو د ساتلو لپاره به یې ویاړ څلې ، یاد څلي ، او یا د هغوی څېرې جوړولې ، دغه ویاړ څلي او څېرې یقیناً تر ډېره وخته د ویاړمنو خلکو یادونه ساتي خو د تل لپاره دغه څلي او ویاړونه ژوندي نه پاتې کیږي ، نو

---

[۱] د مفتي محمد شفیع ؒ لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[۲] د مفتي محمد شفیع ؒ لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کبله اسلام د مخکینیو خلکو د رواجونو پر خلاف د حضرت ابراهیم علیه السلام د قربانۍ د یاد د تازه کولو او ساتلو لپاره پر مسلمانانو قرباني واجب کړه ، د قربانۍ په کولو سره یوازې دا نه چې د حضرت ابراهیم علیه السلام یاد را تازه کیږي ، بلکې دغه د مسلمانانو پر زړونو یوه اغېزه هم اچوي .

ویاړ ځلي او ځېرې که هر څومره کلکې او ټینګې جوړې شي ، خو بیا هم د وخت په تېرېدو سره ختمې او یا د پېښو ښکار کیږي ، خو د حضرت ابراهیم علیه السلام یاد به د قیامت تر ورځې پورې ژوندی وي ، ځکه چې هغه د حضرت محمد ﷺ پر امتیانو واجب او په قران کریم کې خوندي شوی دی ، څرنګه چې د قران کریم هر امر د قیامت تر ورځې پورې جاري او پلی کیږي نو له دې کبله به هم د حضرت ابراهیم علیه السلام یاد د قیامت تر ورځې پورې ژوندی وي ، د حضرت ابراهیم علیه السلام قرباني د دې ګواهي ورکوي که یو مسلمان خپل ټول مال اوکورنۍ د خدای ﷻ په لاره کې لګښت کړي بیا هم د الله ﷻ حق نه شي ورپوره کولای.[1]

## حاجیان او غیر حاجیان د قربانۍ په مسئله کې یو ډول دي :

هغه ابراهیمي سنت چې په ځانګړو ځایونو پورې اړه لري؛ لکه د دړیو جمرو ویشتل ، د صفا او مروا تر منځ منډې ، او اووه طوافونه یوازې پر حاجیانو واجب دي . او د قربانۍ حلالول پر ټولو مسلمانانو واجب ده ، د قربانۍ حلالول یوازې دا نه چې واجب ده بلکې د اسلام له نښنو څخه هم ده ، لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران

(۱) د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.



کریم کې فرمایلي دي : ﴿وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ﴾ [1]

ژباړه: او د قربانۍ اوښان مو ستاسو لپاره د الله ﷻ د دین له نښانو څخه ګرځولي تاسو ته په هغو کې ښېګڼه ده . [2]

## ایا قرباني اقتصادي زیان دی؟

کله چې انسان د الله ﷻ څخه بې پروا او په انساني غوښتنو کې ډوب شي، نو ټول عبادتونه ورته خیال او رواج ښکاري ، نو له دې کبله قرباني یوه ستونزه او زیان بولي او یا وایي چې که د قربانۍ دغه پیسې چې پر حیواناتو لګول کیږي ، که د قوم او کلیوالو په کارونو کې ولګول شي ، نو دا به غوره وای . خو دا خبره هم اړینه ده چې د خلکو ستونزې هغه مهال حل کېدای شي چې د خلکو ژوند ارامه او اخلاق یې نیک شي ، له غلا ، چور ، چپاول ، چل او دوکو څخه ځانونه وژغوري لکه یو پوه انسان چې علمیت او تربیې ته پر نورو اړتیا وو غوروالی ورکوي ، خو ویلای شو چې د انسانانو د اخلاقو د ښه والي لپاره د الله ﷻ رضا او خوښې غوره نخسه ده ، د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ پیروي انسان په هر حال کې له بدو کارونو څخه راګرځوي او قرباني د دې ډول احساس په ځواکمنتیا کې ډېره اغېزه لري ، له دې کبله ویلای شو چې د انسانانو بریالیتوب په دې کې دی چې قرباني ښه په ذوق او شوق سره وکړي او نور خلک هم دې

(۱) د حج سورت ۳۶ ایت .

(۲) د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار تـه راوبلي ، نـه دا چې قرباني ونـه کړي او د قربـانۍ پـه پيسـو نفسي غوښتنې تر سره کړي .

لنډه دا چې د قربانۍ کولو اصلي موخه دا نـه ده چې خلک غوښـه وخوري ، ځکه چې قرباني يو شرعي امر او ابراهيمي يادگار دی ،

الله ﷻ پـه قـران کـريم کـې د قربـانۍ پـه اړه داسـې فرمـا يلي دي : ﴿ لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلاَ دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ ﴾ [۱]

ژباړه: الله ﷻ تـه يې نـه غوښي رسيږي نـه وينې ،مگر هغـه تـه خـو ( يوازې ) ستاسو تقوا رسيږي . [۲]

## د اختر او قربانۍ فضايل او مسايل:

## د اخترونو مشروعيت:

﴿عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَـةَ وَلَهُـمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا فَقَالَ « مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ » . قَالُوا كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِى الْجَاهِلِيَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْـدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ ﴾ [۳]

ژباړه: له حضرت انس ؓ څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ له مکې څخه مدينې ته راغی، د مدينې خلکو دوې ورځې خوشحالۍ کولې او پـه هغـو کـې بـه يـې د لوبـو تماشـې کـولې، رسـول اللهﷺ ورڅخـه

[۱] د حج سورت ۳۷ ايت .

[۲] د مفتي محمد شفيع ؒ ليکنه: تاريخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[۳] ابوداؤد: باب صلاة العيدين، رقم الحديث ۱۱۳۶



وپوښتل د دې دوو ورځو حقيقت او حيثيت څه دی؟ هغـوی عـرض وکړ: موږ د جاهليت پـه زمانه کې همدا رواج درلود ، رسول اللهﷺ ورتـه وفرمايل: اللهﷻ تاسو تـه د هغو دوو ورځو پـه بدل کـې تـر هغـه غـوره ورځې مقررې کړي دي، هغه د لوی او کوچني اختر ورځي دي.

د ولسـونو او ملتونـو د خوشـحالۍ ورځـې پـه اصـل کـې د هغـو د تاريخ او روايـاتو ترجماني او د ملي مزاج هنداره وي، له همدې امله ښکاره خبره ده چې تر اسلام مخکې د جاهليت پـه دوره کـې چـې د مدينې خلکو کومې د خوشحالۍ ورځې لمانځلې،د جاهلي طبعيت او تخيـل او د نـاپوهۍ د روايـاتو مـنعکس کـوونکي وې، د رسـول اللهﷺ پـه وينا کې صراحت دی چې اللهﷻ هغـه پـخوانۍ د خوشـحالۍ ورځې ختمې او پر ځای يې د کوچني اختر او لـوی اختـر ورځـې د دې امت لپـاره د خوشـحالۍ ورځـې وټاکلې چې پـه توحيـدي تخيـل او تصوراتو او د ژوند له اصولو سره سم د تـاريخ او روايـاتو هنداري دي.

## د ذوالحجې د لومړيو لسو ورځو فضيلت:

﴿ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَـمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِـكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِشَيْءٍ)[١]

ژباړه: له حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (څومره چې نېک اعمال الله ﷻ ته په دې لسو ورځو کې محبوب دي په نورو ورځو کې ورته دومره محبوب نه دي)، صحابه وو وپوښتل: ای د الله رسوله! د الله ﷻ په لار کې جهاد هم د دغه لسو ورځو د نېک عمل په پرتله الله ﷻ ته محبوب نه دی؟، رسول الله ﷺ ورته وویل: (د الله ﷻ په لار کې جهاد هم د دغو ورځو د نېک عمل په شان الله ﷻ ته محبوب نه دی، البته بې له هغه چا چې په ځان او مال سره د الله ﷻ په لارې کې ووځي، او بیا د هیڅ شي سره راستون نشي، یعني ځان او مال ټول د الله ﷻ په لار کې وښندي)

حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي: (د الله ﷻ د عبادت لپاره غوره وخت د ذوالحجې لس ورځې دي، په دې لس ورځو کې یوه ورځ روژه د یو کال روژې نیولو په اندازه او یوه شپه عبادت د قدر د شپې په اندازه ثواب لري)[٢]

الله ﷻ په قران کریم کې په دې لسو ورځو قسم یاد کړی دی، او زیاتره علماء په دې خبره په یوه خوله دي چې له دې لسو ورځو څخه همدغه د ذوالحجې لومړنۍ لسې ورځې مراد دي، په ځانګړې توګه نهمه ورځ یعني د عرفات ورځ او شپه د دې لسو شپو څخه غوره او منلې ده، څوک چې په نهمه ورځ روژه ونیسي د یو تېر شوي کال او د بل راتلونکي کال ګناهونه یې بخښل کیږي. او همدارنګه د لوی

(١) سنن الترمذی: باب ما جاء فی العمل فی ایام العشر، رقم الحدیث ٧٥٧

(٢) سنن الترمذی: باب ماجاء فی العمل فی ایام العشر، رقم الحدیث ٧٥٨.



اختر د شپې عبادت هم د الله ﷻ په وړاندې ډېر ثواب لري.[١]

## د لوی اختر په ورځ تر ټولو غوره عمل:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: «مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ دَمٍ وَإِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي فَرْثِهِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِي الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا»[٢]

ژباړه: له عایشې ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ ته د لوی اختر د ورځې په عملونو کې تر قربانۍ زیات غوره بل عمل نشته د قیامت په ورځ به د قربانۍ څاروی له ښکرونو او وېښتانو سره (ژوندی) راشي، او د قربانۍ وینه مځکې ته تر رسېدو مخکې الله ﷻ ته د قبول وړ ګرځي، نو ای د الله ﷻ بنده ګانو د زړه له اخلاصه قرباني کوئ.

## د تشریق تکبیرونه:

(اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ) د ذوالحجې د نهمې (عرفات) ورځې له سهار څخه تر دیارلسمې ورځې پورې د هر لمانځه څخه وروسته یو ځل دغه تکبیرونه ویل واجب دي، که څوک په جمع لمونځ او که یې یوازې د نر او ښځې

(١) د مفتي محمد شفیع ؒ لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(٢) ترمذی: ابواب الاضاحی، رقم الحدیث ١٤٩٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو لپاره دغه حکم یو ډول دی .

تکبیرونه باید له هر لمانځه وروسته په لوړ ږغ سره وویل شي ، که څوک یې په ټیټ ږغ وایي باید هغه ته وویل شي چې په لوړ ږغ سره یې ووایه . [۱]

## د لوی اختر د ورځې سنت کارونه:

د لوی اختر د ورځې سنت کارونه په لاندې ډول دي :

- سهار وختي له خوبه پاڅېدل .
- غسل کول او مسواک وهل .
- نوې او پاکې جامې اغوستل ، که څوک نوې جامې ونه لري خو پاکې باید وي .
- د عطرو لګول .
- په وړوکي اخترکې دلمونځ څخه مخکې خوراک ، څښاک کول اوپه لوی اخترکې دلمانځه څخه وروسته خوراک او څښاک کول.
- د اختر د لمانځه ځای ( عیدگاه ) ته د تللو په وخت کې په لوړ ږغ سره تکبیرونه ویل .[۲]

---

[۱] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[۲] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.



## د اختر د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته:

عن جابر بن سمرة قال صلیت مع رسول الله ﷺ العیدین غیر مرة و لا مرتین بغیر اذانٍ ولا اقامةٍ. [۱]

له جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما له رسول الله ﷺ سره یو یا دوه ځلې نه بلکې څو ځلې لمونځ کړی دی، تل پرته له اذان او اقامت څخه.

## د اختر د لمانځه ترتیب:

د اختر لمونځ دووه رکعته دی او په هر رکعت کې درې - درې تکبیرونه اضافه دي ، په لومړي رکعت کې تکبیرونه د ثناء (سُبۡحَانَکَ اللّٰهُمَّ) څخه وروسته او د فاتحې ( اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعَالَمِیۡنَ) څخه وړاندې ویل کیږي ، د اضافه تکبیرونو د ویلو پر مهال لاسونه غوږونو ته پورته کیږي (مقتدیان دي هم لاسونه غوږونو ته پورته کړي) او بیا ځوړند پرېښودل کیږي .

د درې تکبیرونوویلوڅخه وروسته امام فاتحه او بیا قرائت لولي... ، او په دویم رکعت کې د فاتحې سورت او قرائت څخه وروسته درې ځله بیا تکبیرونه ویل کیږي او د څلورم تکبیر په ویلو سره رکوع ته کښته کیږي . [۲]

---

[۱] مسلم

[۲] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اختر خطبه:

که څه هم د اختر خطبه سنت ده، خو په پټه خوله یې اورېدل او ورته کېناستل واجب دي؛ که خطبه اورېدل کېږي او که نه اورېدل کېږي.(۱)

## د اختر په ورځ نفلي لمونځ:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا (۲)

ژباړه: له ابن عباس ﵄ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د کوچني اختر په ورځ دوه رکعته لمونځ کاوه تر هغه مخکې او وروسته به یې کوم نفل لمونځ نه کاوو.

د اختر تر لمانځه مخکې نفل کول مکروه دي که هغه په عیدګاه کې وي او که بل ځای، خو د اختر تر لمانځه وروسته یوازې په عیدګاه کې نفل لمونځ مکروه دی په کور کې مکروه نه دی.(۳)

## د قربانۍ تعریف:

د لوی اختر په ورځو کې د الله ﷻ د تقرب(نږدېوالي) د حاصلولو په موخه د کوم ځانګړي څاروي حلالولو ته قرباني (اضحیه)

(۱) مسایل رفعت قاسمی ۹۷/۵
(۲) بخاري: باب الطیب للجمعة، رقم الحدیث ۹۶۴
(۳) مسایل رفعت قاسمی: ۶۹/۵



وايي.(۱)

## د قربانۍ مشروعیت:

قرباني یو داسې مشروع عمل دی چې په قران، حدیث او اجماع سره ثابت دی، او پر دې باندې د ټولو علماوو اتفاق دی.(۲)

## د قربانۍ حکم:

قرباني یو مالي عبادت دی او حکم یې واجب دی(۳) الله ﷻ فرمايي ( فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ) خپل رب ته لمونځ وکړه او قرباني وکړه.

ابن کثیر ﵀ له مفسرینو صحابه کرامو، تابعینو لکه حضرت عبدالله بن عباس ﵄، عطاء، مجاهد، عکرمه او حسن بصري ﵏ څخه روایت کړی دی چې د (وَانْحَرْ)کلیمې معنی قرباني ده .(۴)

رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې وس ولري او قرباني نه کوي زموږ عیدګاه ته دې نه راځي.(۵)

(۱) الدرالمختار بهامش رد المحتارد ۲۱۹/۵
(۲) ردالمحتار: ۲۲۰/۵، ط رشیدیه
(۳) ردالمحتار: ۲۲۰/۵، ط رشیدیه
(۴) ابن کثیر ﵀ .
(۵) سنن ابن ماجه: باب الاضاحی واجبة، رقم الحدیث ۳۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قربانۍ حکمت او فلسفه:

سربېره پر دې چې قرباني يو ابراهيمي ياد دی ، دا د الله ﷻ په لار کې يو ډول سرښندنه او د الله ﷻ د منني اداء کول هم دي. کله چې بډايان د قربانۍ غوښه د بېوزلو په منځ کې وېشي، نو په مسلمانانو کې د دوستۍ او ورورولۍ احساس او روحيه ژوندۍ کوي.

بډای او فقير يو د بل تر څنګ خوښي کوي؛ چې دا خوښي په يوه ټولنه کې د سوکالۍ او نېکمرغۍ لامل ګرځي.

## د قربانۍ حقيقت او ارزښت:

(عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قُلْتُ أَوْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا هَذِهِ الْأَضَاحِيُّ قَالَ سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ قَالُوا مَا لَنَا مِنْهَا قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ حَسَنَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالصُّوفُ قَالَ بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنْ الصُّوفِ حَسَنَةٌ) [1]

حضرت زيد بن ارقم وايي چې صحابه وو له پېغمبر ﷺ څخه د قربانۍ د حقيقت په اړه پوښتنه وکړه پېغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمايل : ( دا ستاسو د پلار حضرت ابراهيم عليه السلام سنت دی ) صحابه وو وپوښتل : ( آيا نو په دغه قربانۍ کې موږ ته هم ثواب رارسيږي؟) پېغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمايل : ( هو ، د قربانۍ د حيوان د هر وېښته په بدل کې تاسو ته يوه نېکي ليکل کېږي ) صحابه وو بيا وپوښتل: (د وړيو هم دومره اجر دی؟) پېغمبر ﷺ په ځواب کې ورته وفرمايل: (هو، د وړيو هم دغه حساب دی، د هر

(۱) سنن ابن ماجه: باب ثواب الاضحيه، رقم الحديث ۳۱۲۷



وېښته په بدل کې يوه نېکي ورکول کېږي)

## د قربانۍ فضيلت:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: « مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ دَمٍ وَإِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي فَرْثِهِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِي الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا » [1]

حضرت عايشه رضي الله عنها وايي چې پېغمبر ﷺ وفرمايل د قربانۍ په ورځ کې الله ﷻ ته تر قربانۍ زيات بل کار خوښ نه وي، په دې ورځو کې دغه نېک کار تر هر بل نېک کار غوره وي، د قربانۍ څاروی به د قيامت په ورځ د ښکرو، وېښتانو او ښنګرو سره يو ځای ژوندی راشي، او د قربانۍ په ورځ به د حلالولو په وخت چې د وينې يو څاڅکی پر ځمکه لوېږي، نو ځمکې ته تر رسېدو مخکې د الله ﷻ د خوښۍ سبب ګرځي، او هغه يې قبلوي، نو ای د الله ﷻ بنده ګانو! په خوښۍ او د زړه په مينه قرباني وکړئ.

## د قربانۍ پر پرېښولو وعيد:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا) [2]

(۱) ترمذی: ابواب الاضاحی، رقم الحديث ۱۴۹۳

(۲) سنن ابن ماجه: باب الاضاحی واجبة ام لا؟، رقم الحديث ۳۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمیال: څوک چې وس ولري (د نصاب څښتن وي)، خو قرباني نه کوي هغه دي زموږ عیدګاه ته نه راځي.

## د قربانۍ نصاب:

د قربانۍ او صدقة الفطر (سرسایې) نصاب یوه ډول دی، او هغه (۸۷,۴۷۹) ګرامه سره زر او یا (۶۱۲,۳۵ ) ګرامه سپین زر دي .[1]

## د نصاب تعریف:

نصاب د مال هغې خاصې اندازې ته ویل کیږي، چې پر هغې باندې شریعت زکات فرض کړی وي، لکه د پسونو لپاره څلوېښت (۴۰)پسونه، د سپینو زرو لپاره دوه سوه (۲۰۰) درهمه او د سرو زرو لپاره شل (۲۰) مثقاله سره زر.[2]

## قرباني پر چا واجبیږي؟

قرباني پر هر هغه چا واجبیږي چې مسلمان، عاقل، بالغ، مقیم او د(۶۱۲,۳۵)ګرامه سپینو زرو،او یا د (۸۷,۴۷۹) ګرامه سرو زرو څښتن وي . [3]

(1) احسن الفتاوی: ۵۰۸/۷
(2) مسایل رفعت قاسمي: ۵۵/۵
(3) احسن الفتاوی: ۵۰۸/۷



یا په واک کې داسې څه ولري چې له اړتیا یې زیات وي، او ارزښت یې د سپینو یا سرو زرو د نصاب قیمت ته ورسیږي.

د اړتیا شیان هغه دي چې د سړي ژوند او عزت پورې تړلی وي،لکه خوراک، څښاک، کالي، د اوسېدو ځای او داسې نور چې په اصلي اړتیاوو کې شمېرل کیږي، نو له دې امله ستر ـ ستر دېګونه، لوی فرشونه، قالینې، راډیو او تلوېزیون، له اړتیا زیاتې جامې او داسې نور شیان چې د انسان د اساسي اړتیاوو په جمله کې نه راځي نو که د دغو شیانو ارزښت د نصاب قیمت پوره کولای شو نو قرباني واجب ده.[1]

که څوک د نصاب څښتن وي ، د قربانۍ لپاره د کال تېرېدل شرط نه دي ، ځکه خو که څوک د اختر په دویمه ورځ هم د لمر له لوېدو څخه وړاندې دومره شتمني پیدا کړي چې ارزښت یې د قربانۍ نصاب ته رسېده نو قرباني پرې واجب ده.[2]

یاده دې وي چې د نارینه وو په څېر په ښځو هم قرباني واجبه ده، چې کله د قربانۍ د نصاب په کچه سره یا سپین زر او یا هم د هغه په اندازه شتمني ولري.[3]

که کوم لېونی او ماشوم د نصاب څښتن وي قرباني پرې نه کیږي او د هغوی سرپرست هم نه شي کولای چې دهغوی پر ځای (د هغه له ماله ) قرباني وکړي . [4]

(1) ردالمحتار: ۲۱۹/۵، ط رشیدیه
(2) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۲۱/۵، هندیه:۲۹۲/۵
(3) هندیه: ۲۹۲/۵، ط ماجدیه
(4) الدرلمختار بهامش ردالمحتار: ۵/ ۲۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کس چې مسافر وي پر هغه هم قرباني واجب نه ده . که مسافر مقیم شو، یا مقیم مسافر شو، د قربانۍ د وجوب لپاره اخر وخت معتبر دی، که مسافر د اختر په درییمه ورځ تر لمر لوېدو مخکې مقیم شو، نو قرباني پر واجب ده. او که مقیم په اخر وخت کې مسافر شي نو بیا قرباني پر واجب نه ده.(۱)

که څوک پر ځان نذر ومني او یا د قربانۍ په نېت څاروی واخلي نو قرباني پر واجب ده، که څه هم فقیر وي.(۲)

که چا د قربانۍ وصیت وکړ او مال یې هم پرېښود ،نو پر وصي یا ولي یې قرباني کول واجب او ضروري ده.(۳)

که د یو چا مال حرام وي، لکه د رشوت یا سود او یا داسې نور، نو پر هغه باندې قرباني واجب نه ده؛ که قرباني وکړي نو قرباني یې نه صحیح کېږي، ځکه چې پر هغه باندې د ټول مال صدقه کول واجب دي. (۴)

که دوه یا درې ورونه ګډ ژوند کوي، نو شتمنۍ ته یې کتل کېږي، که یې شتمني دومره وه چې د هر یوه برخه نصاب ته رسېده، نو پر هر ورور جلا جلا قرباني واجب ده، او د ټولو له لورې یوه قرباني بسنه نه کوي.(۵)

که پلار او بالغ زامن ګډ ژوند کوي، خوراک او څښاک یې یو

(۱) هندیه: ۲۹۲/۵
(۲) هندیه: ۲۹۱/۵
(۳) جواهرالفتاوی: ۱۱۵/۱
(۴) احسن الفتاوی: ۵۰٦/۷ ردالمحتار: باب زکاة الغنم
(۵) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۲۲/۵



ځای وي، نو که زوی د پلار په شتمنۍ او کاروبار کې مستقله برخه او اختیارات ولري، نو پر زوی جلا قرباني واجبه ده او پر پلار جلا ، او که مستقله برخه ونه لري او نه هم خپله د نصاب په اندازه مال ولري، نو پر زوی قرباني واجبه نه ده، یوازې د پلار قرباني بسنه کوي.(۱)

## د قربانۍ ورځې :

د ذوالحجې لسمه ، یوولسمه او دولسمه د قربانۍ د حلالولو ورځې دي ، د ذوالحجې د دولسمې ورځې تر لمر لوېدلو وروسته بیا قرباني نه کېږي . خو په دې درې وو ورځو کې لومړی ورځ یعنې د ذوالحجې په لسمه قرباني کول ډېره غوره او ثواب لري . او د دې درې وو ورځو څخه پر ته بله ورځ قرباني نه کېږي .(۲)

## د قربانۍ پر ځای صدقه او خیرات کول :

که د چا څخه قرباني د عذر له کبله پاتې شي او یا د قربانۍ په ورځو کې ورڅخه بې پروایي وشي ، پر دغه کس واجب ده چې د قربانۍ بیه په غریبانو وویشي . که څوک د قربانۍ په ورځو کې د قربانۍ پیسې صدقه کړي قرباني یې نه کېږي ځکه چې صدقه یو ډول عبادت ده او قرباني بل ډول عبادت ده ، د روژې پر ځای لمونځ او د لمونځ پر ځای زکات او حج نه کېږي ، نو له دې کبله د قربانۍ پر

(۱) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۲۵/۵
(۲) فتاوی هندیه ۵ /۲۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای صدقه نه صحیح کیږي .[۱]

## د قربانۍ د حلالولو وخت:

په کومو ښارونو کې چې د جمعې او اختر لمونځ کېږي په همغه سیمو کې د اختر د لمانځه څخه وړاندې د قربانۍ حلالول جایز نه دي، خو په کومو سیمو کې چې د جمعې او اختر لمونځ نه کیږي ، د هغو سیمو اوسېدونکي کولای شي چې د سهار د لمانځه وروسته قربانۍ حلالې کړي ،[۲]

که د اختر په لومړۍ ورځ لمونځ د کومې ستونزې له کبله و ځنډیږي د اختر د لمانځه د وخت د تېرېدو وروسته خلک کولای شي چې خپلې قربانۍ حلالې کړي .[۳]

د شپې له خوا د قربانۍ حلالول روا ده خو مکروه ده.[٤]

## د قربانۍ د حلالولو مستحب وخت:

د کلیوالو لپاره تر لمر راختو،او د ښاریانو لپاره د اختر تر خطبې وروسته قرباني کول مستحب دي، که چا مخکې تر دې چې امام سلام وګرځوي، قرباني وکړه نو قرباني یې صحت نه لري.[۵]

---

(۱) د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.
(۲) فتاوی هندیه ۲۹۵/۵.
(۳) فتاوی هندیه: ۲۹۵/۵
(٤) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۲۵/۵
(۵) هندیه: ۲۹۵/۵



## د حلالولو سنت طریقه:

(عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا .) [۱]

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ دوه ښکرونه لرونکي، سپینوالي او توروالي ته مایل پسونه په خپل لاسونو قرباني کړل، د حلالولو پر مهال یې (بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ) وویل او خپله پښه یې د هغه پر غاړه ایښې وه.

ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي: رسول الله ﷺ فاطمې رضي الله عنها ته وفرمایل: ولاړه شه له خپلې قربانۍ سره ودرېږه (او ذبح کول یې وګوره) ځکه د هغې د لومړي څاڅکي سره چې ځمکې ته رسیږي ستا ټولې تېرې ګناوې بخښل کېږي. فاطمې رضي الله عنها پوښتنه وکړه ای دالله ﷻ رسوله! د فضیلت موږ اهل بیت لپاره ځانګړی دی او که ټول مسلمانان مستحق دي، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا فضیلت موږ لره هم او نورو مسلمانانو لره هم شته.[۲]

د قربانۍ د حلالولو سنت طریقه دا ده چې قرباني کوونکی دي قرباني په خپله حلاله کړي او که قرباني کوونکی د حلالولو په طریقه نه پوهېده نو بل چا ته دې د قربانۍ د حلالولو اجازه ورکړي خو پخپله باید د قربانۍ د حلالولو پر مهال حاضر او ولاړ وي[۳] ، که یوه مېرمنه په کور کې وي او قرباني یې دباندې حلاله شي پروا نه

---

(۱) بخاری: باب تکبیر عند الذبح، رقم الحدیث ۵۲۴۵
(۲) مسائل رفعت قاسمی، ۱۵۲/۵د ) الترغیب( په حواله
(۳) هندیه: ۳۰۰/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري . [۱]

**تر حلالولو مخکې اداب:**

۱- تر حلالولو مخکې څاروي ته اوبه او خواړه ورکول کېږي، او وږی ، تږی یې ساتل مکروه دي.

۲- د حلالولو ځای ته یې په ډېر سختۍ سره یې کشول مکروه دي، باید په ښه نرمۍ سره د حلالې ځای ته ورسول شي.

۳- چاړه به ښه تېره کوي په پڅه چاړه یې حلالول مکروه دي.

۴- که چاړه تېره کوي نو له څاروي څخه دې پټه تېره شي.

۵- په حدیث شریف کې راځي: یو شخص څاروی چپه کړی وو بیا یې چاړه تېره کوله، رسول الله ﷺ چې ولید ویې ویل: (تاسو څاروی څو ځله وژنئ؟)

۶- د یوه څاروي حلالول د بل په وړاندې مکروه دي.

۷- تر حلالو دي وروسته یو څه وخت ورته وګوري چې بدن یې سوړ شي. [۲]

---

[۱] فتاوی هندیه ۲ / ۲۰۱.

[۲] ۱-۷ مسایل رفعت قاسمي: ۱۵۵/۵



**د قربانۍ نیت:**

د قربانۍ لپاره په ژبه د نیت ویل ضروري نه دي ، خو په زړه کې به یې دا وي چې قرباني کوم نو قرباني یې صحیح ده، او د قربانۍ د حلالولو پر مهال (بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ اَکبر ) ویل ضروري او سنت دي . [۱]

**تر حلالولو مخکې دعا:**

قربانۍ حیوان باید مخ په قبله واچول شي او بیا دغه دعا باید وویل شي :( إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالاَرْض وَ مَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ) [۲]

ژباړه: بېشکه مخ مې کړی دی د هغه چا په لورې چې ځمکې او اسمانونه یې پیدا کړي دي او زه له مشرکینو څخه نه یم ، بېشکه لمونځ ، ټول عملونه ، ژوند او مرګ مې د الله ﷻ لپاره دي .

**تر حلالولو وروسته دعا:**

د قربانۍ د حلالولو څخه وروسته دي دغه دعا ولوستل شي :

(اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّيْ كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِيْبِکَ مُحَمَّدٍ وَ خَلِيْلِکَ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِمَا السَّلاَمَ )[۳]

---

[۱] د مفتي محمد شفیع رحمه الله لیکنه: تاریخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

[۲] ابوداؤد: باب ما یستحب من الضحایا ، رقم الحدیث ۲۷۲۹

[۳] مشکوة: ۱۲۸/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای ربه! دغه ( قرباني ) زما څخه قبوله کړه لکه څنګه چې دې د خپل نازولي ( پیغمبر حضرت محمد ﷺ او حضرت ابراهیم ﷺ قرباني قبول کړې وه .

**د قربانۍ څاروی:**

په شریعت کې د قربانۍ څاروي دوه ډوله دي:

۱- کوچني څاروي لکه وزه (بزه) او پسه چې د یوه کس له لورې قرباني کېدای شي.

۲- غوا، غوایی، ګامېښه، اوښه او اوښ چې د اوو کسانو له لورې قرباني کېدای شي.[۱]

او له دې پرته په نورو حیواناتو لکه وحشي څاروي ، چرګ یا چرګه قرباني نه کیږي .

**د قربانۍ د څاروي عمر:**

- غوا او ګامېښه باید دووه کلنه وي.
- اوښه او اوښ باید پنځه کلن وي .
- وزه او پسه باید یو کلن وي.
- که د پورتنیو حیواناتو عمر له خپلې اندازې کم وي قرباني کول یې روا نه دي . (۲)
- که مرغومی له یو کال څخه کم وي نه قرباني کیږي، خو که وری

---

[۱] فتاوی هندیه: ۲۹۷/۵
[۲] ردالمحتار: ۲۲٦/۵



یا وری دومره تیاره شوې وي چې په ونه او وزن کې له یو کلن سره برابره وي بیا قرباني کېدای شي . (۱)

- که څوک د قربانۍ لپاره څاروی اخلي، د قربانۍ پلورنکی وو ایي چې د دغه څاروي عمر پوره دی، او څاروی هم د څېرې څخه په عمر پوره ښکارېده، د پلورونکي په خوله یقین کول روا دي.

**هغه څاروي چې قرباني کول یې غوره دي:**

۱. غوره دا دي چې د قربانۍ څاروی ښه چاغ، ښایسته او غټ وي.
۲. د خصي څاروي قرباني کول روا بلکې غوره هم ده.[۲]

**هغه څاروي چې قرباني کول یې روا دي خو غوره نه دي:**

۱. هغه څاروی چې د پیدا ایښت له ورځې څخه یې ښکر نه وي، او یا یې ښکر وي خو له بېخه مات شوی نه وي، قرباني یې صحیح ده، او که له بېخه مات شوی وي بیا یې قرباني نه کېږي.
۲. د لېوني څاروي قرباني روا ده، خو غوره نه ده.[۳]
۳. د ډېر عمر لرونکي او شنډ څاروي قرباني صحیح کېږي، خو غوره نه ده.[٤]
۴. د پوستکي ناروغي (خارښت) لرونکي څاروي قرباني کېږي، په دې شرط چې اثر یې و غوښې ته نه وي رسېدلی او که یې اثر و غوښې ته رسېدلی وي، بیا یې قرباني نه صحیح کېږي.[۵]

---

[۱] الدرمختار بهامش ردالمحتار ۲۲٦/۵
[۲] جواهر الفتاوی: ۱/ ۱۱۹
[۳] احسن الفتاوی: ۵۱۲/۸
[٤] احسن الفتاوی: ۵۲۲/۸
[۵] جواهر الفتاوی: ۱۲۱/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. د بلارب یا کوچني بچي لرونکي څاروي، قرباني کول یې روا ده، خو غوره نه ده.[۱]

**هغه عیب لرونکي څاروي چې دقربانۍ وړ نه دي:**

۱- هغه څاروی چې یو یا دوه ښکرونه یې له بېخه وتلي وي.[۲]

۲- هغه پسه چې لم یې د پیدا ښت له وخته نه وي.

۳- د وزې یا مېږې چې یو تی یا دواړه یې پرې شوي، وچ شوي او یا داسې عیبجن وي چې د رودلو وړ نه وي؛ قرباني کول یې صحت نه لري.

۴- دغوا یا اوښې چې دوه یا درې تي پرې یا وچ شوي وي او یا هم د رودلو وړ نه وي؛ قرباني کول یې صحت نه لري.

۵- ړوند یا کوڼ څاروی چې کوڼوالی یې څرګند وي.

٦- داسې ګوډ چې د حلالولو ځای ته پخپله نه شي تللای.

۷- د داسې څاروي چې د پیدا ښت له وخته یې غوږونه نه وي، قرباني یې صحت نه لري؛ که غوږونه یې وه خو واړه وه، قرباني کول یې روا دي.

۸- هغه څاروی چې د یوه غړي لکه غوږ، لکۍ او یا پزې تر درېیمې برخې ډېره حصه پرې شوې وي؛ قرباني کول یې روا نه دي.

۹- د بې غاښو او هغه حیوان حلالول چې ډېر غاښونه یې لوېدلي

(۱) ردمحتار ۲۲۷/۵
(۲) فتاوی هندیه: ۲۹۷/۵



وي، او خوراک نشي پرې کولای قرباني یې صحت نه لري.

۱۰- داسې ډنګر څاروی چې په هډوکو کې یې ماغذه نه وي، قرباني یې نه صحیح کېږي.

۱۱- د نرښځي څاروي قرباني کول صحت نه لري، ځکه چې غوښه نه پخیږي.[۱]

**په قرباني کې دګډون مسئلې:**

۱. په لوی څاروي کې اووه کسان ګډون کولای شي، خو شرط دا دی چې د هر یوه برخه به د څاروي تر اوومې حصې کمه نه وي، نو که ګډون کوونکي اووه کسان وي، ځینو لږ او ځینو ډېرې پیسې ورکړې وي، او غوښه هم د پیسو په اندازه ووېشي، د ټولو قرباني نه صحیح کېږي ځکه د ځینو برخه تر اوومې کمېږي.[۲]

۲. که په لوی څاروي کې تر اووه کسانو زیات ګډون وکړي نو د ټولو قرباني نه صحیح کېږي.[۳]

۳. غوره طریقه دا ده چې د څاروي تر اخیستلو مخکې شریکان وموندل شي، که څوک څاروی واخلي او نیت یې دا وي چې یوه یا دوې برخې یې زما دي او په نورو برخو کې خلک راشریکوم نو دا صورت هم صحیح دی.[٤]

(۱) ۱-۱۱، الدرالمخار مع ردالمحتار: ۲۲۷/۵-۲۲۸
(۲) فتاوی هندیة: ۳۰۴/۵
(۳) هندیة: کتاب الاضحیة، باب الثامن ۳۰۵/۵
(٤) هندیة: کتاب الاضحیة، باب الثامن ۳۰۴/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. که د چا د اخیستلو پر مهال د شریکولو نیت نه وي کړی، نو بیا دې ته کتل کېږي، چې اخیستونکی شتمن دی که غریب، که شتمن وي نو بل څوک له ځان سره شریکولای شي او که غریب وي بیا نو بل څوک نه شي شریکولای، خو که څوک شریک کړي قرباني يې صحيح کېږي، البته پر غریب باندې د هغو ټولو برخو چې خلکو ته يې ورکړې تاوان لازمېږي، نو که د قربانۍ ورځې پاتې وي، د هغو برخو قرباني به کوي، که د قربانۍ ورځې تېرې وي، بیا دي د هغو برخو بیه پر مسکینانو ووېشي.[۱]

۵. که په ګډون کوونکو کې د یوه کس نیت یوازې د غوښو خوړل و او د قربانۍ نه وو، نو د ټولو قرباني نه صحيح کېږي.[۲]

۶. که اووه کسانو ګډون وکړ یو لوی څاروی يې د قربانۍ لپاره واخیست، تر قربانۍ کولو مخکې یو شریک وفات شو، نو که د وفات شوي کس وارثانو د قربانۍ کولو اجازه ورکړه د ټولو قرباني صحيح ده او که د وارثانو له اجازې پرته قرباني وشي نو د ټولو قرباني نه صحيح کېږي.[۳]

۷. که په شریکانو کې د یوه مال حرام و، لکه د رشوت یا سود پیسې نو د ټولو قرباني نه صحيح کېږي.[٤]

۸. که د ګډونوالو نیتونه بېلابېل جهتونه ولري خو نیت د ټولو د ثواب وي لکه نفل قرباني، واجب قرباني، عقیقه، مسنونه

(۱) هندية: كتاب الاضحية، باب الثمانن ۳۰۴/۵
(۲) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۹۹/۵
(۳) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۹۹/۵
(٤) احسن الفتاوی: ۵۰٦/۷



ولیمه نو د ټولو شریکانو قرباني صحيح کېږي.[۱]

**په قربانۍ کې نیابت:**

په قربانۍ کې نیابت صحيح کېږي، که یو کس په یوه هېواد یا ښار کې وي؛ بل چا ته په بل هېواد کې د قربانۍ اجازه وکړي چې زما لپاره قرباني وکړه نو قرباني يې صحيح کېږي.[۲]

**د وفات شوي کس لپاره قرباني کول:**

۱. د وفات شوي کس لپاره قرباني کول روا دي، او وفات شوي شخص ته يې ثواب رسېږي.

۲. عن حنش قال: رأيت علياً رضي الله عنه يضحي بكبشين فقلت له ما هذا؟ فقال إن رسول الله صلى الله عليه و سلم أوصاني أن أضحي عنه فأنا أضحي عنه.[۳]

ژباړه: حضرت حنش وايي ما حضرت علي ﵁ ولید چې دوه پسونه يې قرباني کول، ما ورته وویل: دا دوه پسونه ولې قرباني کوې؟، ده راته وویل: ما ته پیغمبر ﷺ وصیت کړی و، نو دا یوه زما خپل قرباني ده او دا بله د رسول الله ﷺ له لوري قرباني

(۱) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ۲۲۹/۵
(۲) هندیه: ۲۹۴/۵
(۳) ابوداؤد: باب استحباب الضحيه رقم الحديث: ۲۷۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم.[١]

٣. قرباني د رسول اللهﷺ ، مور، پلار، استاذ او نورو خپلوانو له لورې هم کېدای شي.

٤. که دوه وړونه سره شريک شي يو لوی څاروی واخلي، درې درې برخې د ځان لپاره او يوه برخه مشترکه د پلار له لورې قرباني کړي نو د پلار له لورې قرباني يې نه صحيح کېږي ځکه چې په لوی څاروي کې چې څومره کسان شريکان وي هغومره حصې شمېرل کېږي، دوی دوه نفره وه نو ټول قرباني شول، څاروی دوې حصې کېږي.[٢]

**د قربانۍ غوښه** :

١. قرباني که د وصيت وي، نو قرباني کوونکی او د هغه اصول (پلار نيکه) فروع (زوی، لمسی) او شتمن يې غوښه نه شي خوړلای، بلکې پر مسکينانو باندې وېشل يې ضروري دي.[٣]

٢. د قربانۍ غوښې خرڅول يا قصاب او مزدور ته يې په مزدورۍ کې ورکول روا نه دي.[٤]

٣. که د قربانۍ د غوښو تر وېشلو مخکې د ټولو شريکان په خوښه

---

(١) ابوداؤد
(٢) احسن الفتاوی: ٤٩٨/٧
(٣) ردالمحتار: ٢٣٠/٥
(٤) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ٢٣١/٥



چا ته ورکړل شي.[١]

٤. که شريکان په يوه کور کې ګډ اوسېدل بيا د غوښې وېش ضروري نه دی.[٢]

٥. که قرباني د څو کسانو شريکه وه ، غوښه يې بايد په تله باندې وويشل شي ، اټکل وېش يې روا نه دی.[٣]

**د قربانۍ د غوښې د وېش مستحبه طريقه**:

د قربانۍ په غوښو کې مستحبه طريقه دا ده چې درې برخې شي:

١- يوه برخه دې ځان ته واخلي.

٢- دويمه برخه دې پر ګاونډيانو او دوستانو ووېشي.

٣- درېيمه برخه دې پر مسکينانو يا غريبانو ووېشل شي.

که د چا ماشومان ډېر وي او دی غريب وي ، ټوله غوښه ځان ته اخيستلای شي . د قربانۍ غوښه خرڅول حرام دي ، قصاب ته د قربانۍ څرمن په مزدورۍ کې ورکول روا نه ده ، قصاب ته دې د قربانۍ د غوښې او څرمنې پرته روپۍ په مزدورۍ کې ورکړي .[٤]

---

(١) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ٢٢٣/٥
(٢) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ٢٢٣/٥
(٣) الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ٢٢٣/٥
(٤) د مفتي محمد شفيع رحمه الله ليکنه: تاريخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د قربانۍ څرمن (پوست):

د قرباني څرمن پخول (الويل يعنې وېښتيان يې په اور سوزول) او بيا يې خوړل روا دي. [۱]

که څوک د قربانۍ د څرمنې څخه ځان ته مسله (جای نماز) يا بل شی جوړ کړي څه پروا نه لري ، او که څوک د قربانۍ څرمن خرڅه کړي پيسې دي صدقه کړي ، په شخصي کارونو کې دقربانۍ پيسې لګول روا نه دي ، ځکه چې د قربانۍ د څرمنې پيسې صدقه کول واجب دي، لنډه دا چې د قربانۍ څرمن بايد په دې نيت خرڅه شي چې پيسې يې صدقه کړي .

امام او يا مؤذن ته په تنخوا کې د قربانۍ څرمن ورکول روا نه ده ، د قربانۍ د څرمنې د لګښت لپاره غوره ځای مدرسه او پوهنيز مرکزونه دي ، ځکه چې دغه د مدرسو او پوهنيزو مرکزونو د چلولو لپاره ستره مالي پانګه جوړوي .


د قربانۍ څرمن د مدرسې ښوونکي او يا خادم ته هم په تنخوا کې ورکول روا نه دي . [۲]


---


[۱] احسن الفتاوی: ۵۲۲/۷


[۲] د مفتي محمد شفيع رحمه الله ليکنه: تاريخ قرباني، د جمعه خان نائل ژباړه.











**د افغان بنسټ پېژندنه:**

افغان بنسټ يوه نا ګټندويه، غير سياسي ښوونيزه، علمي، خدماتي او بلندويه ټولنه ده، چې په هېواد کې د ښوونې، علمي څېړنو، ټولنيزو خدمتونو او پوهاوي په برخه کې د يوې اجتماعي ټولنې په بڼه رامنځته او خپلې هر اړخيزې کړنې (فعاليتونه) د ټول هېواد په کچه تر سره کوي.

**اړيکه:**

که غواړئ د افغان بنسټ له لارې خپلې نقدي او نورې مرستې، زکاتونه، صدقې اړمنو ته ورسوئ نو په لاندې بانکي حساب يې راولېږئ.

Azizi Bank, Kabul Afghanistan
Acount Title: AFGHAN FOUNDATION
Acount Number: AFN: 001901100344173
USD: 001901200360713

**د افغان بنسټ د مرکزي دفتر پته:**

دريم کور، دويمه کوڅه د امام اعظم رح د مسجد جنوب لور ته خوشحال خان مېنه، کابل ـ افغانستان

اړيکشمېره +93 (0) 707 046 300 / +93 (0) 752 071 233

برېښنا ليک info@afghanfoundation.net وېبپاڼه www.afghanfoundation.net

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**